PROPERTY OF ACKU

دغه رنګ مو تاسې غوره امت ګرځولي یاست چې پر خلکو ګواهان اوسئ

شهادت

اونیزه

د حزب اسلامي افغانستان نشراتي ارګان

درس قرآن

ای محمده! ووایه: که تاسې له الله جل جلاله سره رښتینې مینه لرئ نو زما متابعت وکړئ الله جل جلاله به له تاسې سره مینه وکړي او ګناهونه به مو وبخښي. الله پاک بخښونکی او مهربان دی. ای محمده! ووایه: د الله او د رسول منـنـه وکړئ. که مخ یې واړاو نو الله پاک کافران نه خوښوي. (آل عمران: ۳۱ - ۳۲ آیتونه)

درس حدیث

ابوهریره (رض) می گوید: رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمود: «خداوند عز وجل می فرماید: هرگاه، بنده ام نیت کرد که کار بدی انجام دهد تا زمانی که مرتکب آن نشده است، برایش ننویسید. و اگر مرتکب آن شد، فقط یک بدی برایش بنویسید. و اگر آنرا بخاطر من ترک کرد، برایش یک نیکی ثبت کنید. و اگر قصد انجام عمل نیکی را کرد ولی آنرا انجام نداد، برایش یک نیکی بنویسید. و اگر آنرا انجام داد، ده تا هفت صد برابر نیکی برایش بنویسید. (صحیح البخاری)

شهادت   دربیم کال، ۵۰ مه ګڼه، پرله پسې ۱۵۰ مه ګڼه   چهارشنبه ۱۳۹۰ هـ ل د کب ۲۴ مه   د۱۴۳۳ هـ ق د ربیع الثانی ۲۲ مه   د۲۰۱۲ م د مارچ ۱۴ مه

پنجوایي ته پر تللی پلاوي وسلوال برید شوي دي

کندهار، رسنی:
د رارسیدلو خبرونو پر اساس، پنجوایي ته پر تللی پلاوي وسلوال برید شوي دي.
خبر زیاتوی، دغه پلاوي چې پکې د سرحدونو قومونو او قبایلو چارو وزیر اسدالله خالد، کندهار والي پوهنوال ډاکتر توریالي ویسا، قیوم کرزي، شاولي کرزي او نور لوړ پوړي چارواکي په کې شامل و دلبري ځخه پرې د کلاشینکوف ډزې شوي.
برید لس دقیقې دوام کړي خو کوم چاته یې مرګ ژوبله نده اړولي.
دغه پلاوي وروسته له هغه د پنجوایي ولسوالي د زنګاوات کلي ته تللي چې هلته ۱۶تنه ملکي وګړي د امریکایي ځواکونو په ډزو کي ووژل شوه.
په ورته وخت کي په جلال اباد کي د کندهار په پنجوایي ولسوالي کي د ملکیانو د وژني په غبرګون کي لاریون سوي او هم د کندهار پوهنتون محصلینو احتجاجیه غونډه وکړه.

مذاکره بامخالفین یگانه راه ختم جنگ در افغانستان است

رادیو آزادی:
در یک اردوی ۱۵۰۰۰۰ هزار نفری ایالات متحده امریکا و ناتو در افغانستان، کشتن شانزده نفر ملکی توسط یک عسکر متمرد و حیوان صفت گویا معنی اش این نیست که انضباط و مورال تمام این اردو شکسته و از بین رفته است، اما شک و تردید وجود ندارد که نیروهای خارجی در افغانستان، هم در سرتاسر جهان اسلام و هم در داخل کشورهای خود شان به بحران اعتماد مواجه می باشند. افغانها هم از یک جنگ که از

بقیه در صفحه ۴

وزارت معارف برای سال تعلیمی جدید ۱۱ هزار معلم را استخدام میکند

کابل، رسانه ها:
وزارت معارف افغانستان برای سال تعلیمی ۱۳۹۱ هجری شمسی، یازده هزار فارغ موسسات تحصیلات عالی و نیمه عالی را به عنوان معلم در مکاتب استخدام می نماید.
قرار است معلمین جدید مکاتب افغانستان از طریق امتحان رقابتی استخدام شوند.
صدیق پتمن معین مسلکی وزارت معارف افغانستان به روز سه شنبه در نشستی که به هدف مشوره با ...

بقیه در صفحه ۴

مسلمیار:

سربازان امریکایی دست به کارهای بدتر از روسها زده اند

کابل، پژواک:
اعضای مشرانو جرگه در عکس العمل به تلفات افراد ملکی در کندهار، نشست دیروزی شان را رها نموده و برای نیم ساعت به گونه اعتراض بالای برف در محوطه شورای ملی ایستاده شدند.
فضل هادی مسلمیار رئیس مشرانو جرگه در محوطه شورای ملی به خبرنگاران گفت، که آنها تا وقتی به حرکتهای مدنی شان ادامه خواهند داد، تا عاملین این رویداد به پنجه قانون سپرده نشده باشند.

بقیه در صفحه ۳

د پنجوایي پیښه صلیبي یرغل وو او غچ به یې اخلو "لاریون کوونکي"

پژواک:
د ننګرهار پوهنتون زرګونو محصلینو د پنجوایي پېښې د عاملینو د علني محاکمې او د دې پېښې د غچ اخیستو غوښتنه وکړه.
د تېرې شنبې په ورځ امریکایي ځواکونه د کندهار په پنجوایي ولسوالی کې پر خو کورونو بریدونه وکړل، چې په کې د ښځو او ماشومانو په ګډون یې ۱۶ عام وګړي و وژل او پنځه نور یې ټپیان کړل.
د ننګرهار پوهنتون زرګونو محصلینو پرون

پاتې ۳ مخ

د ګیدړانو او چرګانو یارانه نه کېږي!

محمد خلیل

دویم مخ

یواځې اسلام ښځو ته خپل اصل مقام ورکړی دی

عبیدالله صافي

دویم مخ

له افغانستانه به د ځواکونو په ایستلو کې له بیړې کار وانخلو "اوباما"



کابل، رسنی:
د امریکا ولسمشربارک اوباما وایي، په کندهار کې د یوه امریکایي پوځي له لوري د شپاړس تنو ملکي افغانانو د وژني له کبله به نړیوال ځواکونه له افغانستانه په وتلو کې له بیړې کار وانخلي.
په کندهار کې د امریکایي پوځي د جنایت له کبله افغانان سخت پارېدلي دي او ګڼو رسنیو اټکل کړی چې ممکن د پنجوایي پېښه له افغانستانه د امریکایي پوځیانو د وتلو نبټه رامخکې کړي.
خو ولسمشر بارک اوباما، چې د امریکا له خبري رسنیو سره رږغېده، وویل چې له افغانستانه به نړیوال ځواکونه په وتلو کې مسوولانه چلند وکړي. د ده اشاره دې ته وه چې افغانستان به په داسې حال کې پرې نږدي چې دا هیواد بیا د ترورېستانو لاس ته ولوېږي او په دې هیواد کې د تېرو لسو کلونو پرمختګونه او برباوې بربادې شي.
اوباما وویل چې نړیوال ځواکونه باید ډاډه شي چې افغانان خپلې پولې ساتلی او امنیت ټینګولی شي او دې هیواد ته د القاعده د بیا تګ امکان نشته.
ده (اې کې اې) تلویزیوني چاینل ته وویل چې د کندهار پېښې د ده زړه مات کړ، دا ډېره غمجنه پېښه وه.
اوباما د دې پوښتنې په ځواب کې چې ایا د دې پېښې په خاطر باید له افغانستانه د ځواکونو د ژر ایستلو فکر ونه کړي، وویل: "دا زما اراده لا کلکوي چې خپل پوځیان له افغانستانه راوباسو. خو هغه کار چې نه غواړم ویې کړم

پاتې ۴ مخ

غندنې او ښنې د دې وحشت ځواب نه دی

عبدالله کامه وال

امریکا ته زموږ د ولس وژل یوه لوبه، ساتیري او هوس دی او ددې هوس په ترسره کولو کې هېڅ ډول انساني ارزښتونو ته ژمن نه دي

په دې کې شک نشته چې د کندهار د پنجوایي وروستی پېښه چې بهرنیو عسکرو پکې د ماشومانو او ښځو په شمول ۱۸ تنه بې ګناه افغانان په ډېر وحشت ووژل په نړیواله کچه وغندل شوه، د امریکا ولسمشر بارک اوباماد دفاع وزیر لیون پنیټا اود ناټو سرمنشي راسموسن دغه عمل غندلی، دلته د امریکا سفیر، د دوی د ځواکونو قوماندان، او یو شمیر سفیرانو ټولو دغه پېښه غندلې، ولسمشر کرزي له بهرنیانو نه د هغو وضاحت غوښتی او ولسي جرګې اومشرانو جرګې په اعتراض کې یوه ورځ د جرګې دروازه وتړله او خپل احتجاج یې ثبت کړ. دغه غندنې او غبرګونونه که هر ځومره توند او پر اخلاص وي بیا هم هیڅ درد نشي دوا کولای، دا خو لومړی پېښه نه ده او نه به وروستی وي، بهرنې پوځیان د زورواکي له غرور سره، د هر ډول اخلاقو او انساني کلتور نه ناخبره د تش لاسي ولس په منځ کې پراته دي. وژل یې دوی ته یوه لوبه ده، یو سات تیری او هوس دی، یو

پاتې ۴ مخ

د لوی او مهربان خدای په سپېڅلي نامه

درسی که از عمل افسر امریکایی در پنجوائی باید آموخت

زمانی رابطه میان نیروهای خارجی و ملت، در حد عمل و عکس العمل رسد از آینده آن از کجا میتوان مطمئن بود؟

زمانی افسران خارجی به اجساد کشته شدگان طالب اهانت می کند در عکس العمل به آن افسران فرانسوی در تگاب کشته می شود.

زمانی نیروهای خارجی می خواهند با اهانت کتاب آسمانی قرآن مجید احساسات ملتی را جریحه دار سازند و در عکس العمل به آن افسران بلندپایه امریکایی در مرکز سوق و اداره امنیت در کشور ما (وزارت امور داخله) کشته شوند.

چه کسی می تواند عمل نابخردانه افسر امریکایی را که شانزده زن و کودک را در کمال بی دردی هدف سلاح مدرن دست داشته خود قرار می دهد، جز عکس العمل در برابر کشته شدن همان دو افسر و یا نظائر آن توجیه کند.

زمانی خانم سارایلین کاندید معاونیت ریاست جمهوری امریکا در دوره گذشته افغانها را وحشی بخواند، از یک افسر عادی چه می توان انتظار داشت جز این که با افغانها برخورد وحشیانه کند.

اکنون باید از خانم سارایلین پرسید که وحشت افغانها بیشتر است یا از افسر کشورش؟ !

من باور دارم به افسران و افرادی که از امریکا به افغانستان سوق می شوند برنامه مختصری از ظروف و شرایط زندگی و وضع اجتماعی افغانها به آنها ارائه می گردد و توصیه رعایت حساسیت های افغانها به اوشان تأکید می شود.

در اینجا نمی خواهیم روی این نکته بحث کنیم که حوصله مندی افغانها و یا بی صبری آن در چه حدی خواهد بود و یا افسران امریکایی که خود گمان می کنند برای دفاع از افغانها آمده اند و گویا افغانها را نجات داده اند و برای دفاع شان مال و جان خود را نثار می کنند در برابر اعمال خشونت با ایشان تطابق شود و به محض سهوی خواندن آن آتش خشم افغانها باید خاموش گردد.

روی کلام ما با آنهائی است که با دیدن این همه عکس العمل های متقابل هموطنان شان و نیروهای خارجی در افغانستان خواستار دوام حضور نظامی و پایگاه های نظامی امریکا در کشور ما اند.

اینها در حالیکه جز خانه کردن دور و رو پیش رئیس جمهور و یا ظاهر شدن در صفحه تلویزیون و یا نوشتن در کدام روزنامه و اخبار چیزی در اختیار ندارند نه غرور نیروهای خارجی می توانند کاهش دهند و نه هم مردم ما را می توانند تسلیم بلاقید و شرط نیروهای خارجی نمایند تا در برابر آنچه پیش می آید خاموش بمانند.

باید دقت نمایند که آنچه در ولسوالی پنجوائی پیش آمده در کدام جبههٔ جنگ در برابر جنگجویان طالب و یا نیروهای القاعده نیست که برای آن توجیه یافت شود. خانواده ای آمن زنان و کودکان اند، آنهائی حریصانه دل و جان را برای استقبال نیروهای خارجی و بقا و دوام آنها کشوده اند و سند واجب القتل و مباح الدم بودن هموطنان خود را در بدل کرسی دولتی زیر حمایه آنها امضا و تسلیم نموده اند، در حالیکه در طی ده سال گذشته قادر به مهار نمودن مخالفین نظام نه شده اند، غرق بودن آنها در انواع فساد، نهادینه ساختن ظلم، بی عدالتی و ناروا در نظام مورد تائید شان صفوف مخالفین را افشرده تر ساخته و قربانیان ظلم و بی عدالتی نظام را به آنها پیوند داد و به پناهگاه های مخالفین مسلح افزود.

می خواهم توجه آنها را به خستگی جامعه بین المللی از دوام جنگ در افغانستان معطوف دارم. همین یکماه قبل وزیر خارجه آلمان از تسریع گفتگوها با مخالفین مسلح نظام سخن گفت و جمله مشهور "صلح با دشمن می شود" از زبان او به مطبوعات منعکس گردید. همین دیروز انگلامیر کل به تائید از گفته های یکماه قبل وزیر خارجه اش دولت را به تسریع مذاکرات صلح با مخالفین تشویق کرد، اظهارات سفیر بریتانیا در هنگام ختم ماموریت اش به مقام اموزنده برای ما داشت.

با بحث و مشاجرات اعضای مجالس کانگرس و سنای امریکا نباید به سادگی برخورد کرد و یا آنچه که یک جنرال امریکایی از وضع در افغانستان و یا فهم آقای رئیس جمهور افغانستان از قضایای کشورش و جامعه بین المللی اظهار می نماید حتی اگر منتج به اخراج او از افغانستان هم گردیده باشد باید ما افغانها چه افراد نشسته بر اریکه قدرت، محروم شده از قدرت و یا آنهائی که برای کسب قدرت با بی صبری در تب و تلاش اند، و یا در جستجوی آنند که چگونه یک قرارداد داخلی و یا خارجی تهیه و یا تدارک را بدست آورده و بر ثروت و قدرت مافیائی خود بیفزایند، به عواقب آن بیندیشند.

آنها نباید بخاطر دوام و بقای امتیازات خود و برای آنکه وزیر، مشاور وزیر، وزیر ارشد و ... باشند و یا رهبر روحانی و سرمشاور کل از فردای تیره و تار کشور شان غافل باشند، هیچگاه هم گمان نکنند که دوام قتل و کشتار مخالفین به صلاح آنها و یا کشور ما است.

نظام حاکم و مخالفین سیاسی آن اگر آنقدر ناتوان باشند که زبان تفاهم با هموطنان خود را بدانند و یا در غبار برخاسته از جنگ قدرت میان نظام حاکمه و مخالفین سیاسی آن، راه و طریق تفاهم با مخالفین مسلح و اعتراض کنندگان خشمگین از ظلم و بی عدالتی و فساد در نظام از همه گم شود، بدست خود ما آیند و تسلط سیاه جنگ دوران و تجاوز کشورهای منطقه را بر سرزمین خود رقم می زنیم.

آنهائیکه با استفاده ابزاری از پروسه صلح بخواهند مخالفین سیاسی خود را تحت فشار قرار دهند و مخالفین سیاسی نظام از بیم در حاشیه قرار گرفتن در آینده کشور در برابر پروسه صلح جبهه گیری نمایند مصلحت آینده کشور را پامال نموده اند.

دولت، شورای عالی صلح و نیروهای سیاسی موجود در کشور ما با ترک رقابت های بر سر قدرت و یا فرصت طلبی ها دست بدست هم داده، آگاهانه کشور خود را از خطرات آینده نجات دهند و راه های دوام مخالفت های مسلحانه را سد بنمایند.

د ګیدړانو او چرګانو یارانه نه کېږي!

محمد خلیل

د یکشنبې په ورځ د کندهار په پنجوایي ولسوالي کې د یوه امریکایي سرتیري په ډزو کې ۱۷ تنه ملکي وګړي شهیدان او پنځه نور ټپیان شول.

امریکایانو له دغې زړه بوګنوونکی پېښې نه وروسته دا افواه ګډه کړې چې نوموړی سرتیرې لیونې دی او د عصبي ناروغیو له امله یې په ملکي کسانو ډزې کړي او هغوی یې وژلي دي.

دا لومړی ځل نه دی چې امریکایي عسکر د افغانانو کورو ته ننوځي او د کورنی ټول لوی او واړه ماشومان د مرمیو په باران کې په سرو وینو کې لمبوي، خو ډېر د تأسف او د خندا وړ خبره داده چې چېرته هم امریکایي او ناټو ځواکونه دا ډول پېښې ترسره کړي نو جنرالان یې یا سهوه بولي او یا هم خطا، دا ځل چې په کندهار کې ۱۷ تنه ملکي وګړي یې په تیاره شپه کې په وینو کې لت پت کړل، دې لپاره دا توجیه وړاندی کوي چې ددغې کړنې د مرتکب پوځي، اعصاب نارمل نه و او د عصبي ناروغیو له امله یې په ملکي کسانو ډزې کړي او د هغوی د ژوند څراغ یې ګل کړی دی.

افغانان نه پوهېږي چې امریکایان پخپله کم عقل دی او که پر افغانانو یې د کم عقلی ګمان کړیدي چې د خپلې هرې کرغېړنې کړنې لپاره له منطق او استدلال نه خالي د برئت دلیل وړاندې کوي، په داسې حال کې چې هر څوک پوهېږي امریکایي او ناټو عسکر نه لیوني دي او نه هم جاهل، په پوځ کې هغه ځوانان په دندو ګمارل کېږي چې په هر اړخیز ډول له ټولو ناروغیو څخه پاک او سالم وي، چست، چالاک او حاضر دماغ وي.

په پوځي قانون کې هېڅ عسکر د خپل قوماندان له امر پرته نشي کولې پخپل سر د چا کور ته ننوځي او یا هم پخپل سر د چا ژوند واخلي، د امریکا او ناټو ځواکونو پوځیان له بشپړ طبي سهولتونو او صحي معایناتو له نعمت څخه برخمن دي که هغوی ته معمولي غوندې جسمي او روحي تکلیف هم پیدا شي تر درملنې لاندې نیسي او له بشپړ علاج وروسته یې بېرته بېرکونو ته استوي، نو څکه لدې پرته بل هېڅ نشي ویل کېدی چې هغوی هر څه قصداً او عمداً ترسره کوي دا عجیبه سهوه او تېروتنه ده چې همېشه پر افغانانو تکرارېږي، دا څنګه روحي او عصبي ناروغی ده چې یوازې افغانان دهغه تر برېد لاندې راځي، یوه ورځ هم داسې ونه شول چې امریکایي او ناټو عسکرو پخپلو کې پر یو بل ډزې کړې وي، د یو بل مړي سوځولي یې وي او یا وربانديې متیازې کړې وي، لاسونه او پښې یې پرېکړې وي، خپل ټانک او موټر یې ویشتلې وي.

د تېرو لسو کلو راهیسې داسې هېڅ واقعه نه ده پېښه شوې چې دهغوی په سهوه او رواني ناروغیو باندې دلالت وکړي او افغانان پوه شي چې که د افغانانو پر ویشتلو سهوه شوي د خپلو پوځونو په ویشتلو کې هم ډېر ځلي سهوه او خطا شوی ده.

تر اوسه پورې له شلو زرو نه زیات ملکي بې ګناه افغانانو ته مرګ ژوبله اوښتې چې زیاتره پکې تنکي ماشومان، زنانه او بوډاګان دي که د دومره زیات شمېر وګړو مرګ ژوبله سهوه وبلل شي نو دا به د نړۍ په سر د سپینو درواغو یوه لوی حیرانوونکي نړیوال ریکارډ وي.

که لمر په دوه ګوتو پټ نکړی شي او هر څه صفا او څرګند وویل شي نو اصل واقعیت دا دی چې امریکایان اصلاً افغانانو ته له حیواناتو نه هم په کمه سترګه ګوري نه دهغوی ژوند ورته مهم دی او نه عزت او آبرو، که داسې نه وي نو بیا دا څنګه ممکن کېدلې شي چې یو یا څو امریکایي پوځیان له خپلو پوځي بیر کونو څخه پخپل سر څو کیلومتره لېرې د یوه کلي کورو ته دننه کېږي او ټول اوسېدونکي یې په پوره شقاوت او بې رحمی تر اور لاندې نیسي او له وژلو وروسته بېرته خپل مرکز ته ستنېږي؟ د داسې کړنو په ترسره کولو امریکایي او ناټو ځواکونو د خپل زړه خباثت او کینه بالکل ښکاره کړې، هغوی له افغانانو سره د برابري په بنیاد اړیکې نه غواړي، او افغانانو ته څرګند پیغام ورکوي چې موږ بشر یو او تاسې حیوان، ټول بشري حقوق موږ لپاره دي نه تاسو لپاره، زمونږه وینه او ستاسې وینه سره هرګز نه شي برابرېدلی، زموږ ژوند ډېر قیمتي دی او ستاسې ژوند د تېر هومره هم ارزښت نه لري، تاسې به طوعاً او کرهاً زموږ د هرې کړنی په وړاندې د منښې او عاجزی سر ږدئ، دا زموږ خوښه ده چې څوک وژنو او که ژوندی یې پرېږدو، د ورځې وژنو او که د شپې، لاسونه یې پرې کوو او که پښې یې، متیازې وربانديې کوو او که په اور کې یې سوځوو، ټول کلی بمباروو او که څو کورونه، د واده پر ورا بمباري کوو او که د سپین ږیرو پر کاروانونو او جرګو، ستاسې مقدس کتابونه سوځوو او که مسجدونه، دا هر څه زموږ قانوني حق دی په دې باندې به نه احتجاج کوئ او نه ژړا، فریاد.

له پوځي بیرک نه وسله په لاس څو کیلومتره لېرې کلي ته ورتلل او هلته په دننه کور کې د ماشومانو، ځوانانو او بوډاګانو وژل لدې پرته بل څه معنی لري چې د افغانانو وینه هغوی لپاره هېڅ اهمیت نه لري.

د امریکایانو او افغانانو ترمنځ به د اعتماد او باور فضا هله قائمه شوې وه او هله به هغوی ته په افغانستان کې د پاتې کېدو زمینه برابره شوې وه چې افغانان یې هم د خپلو ځانو په څېر انسانان ګڼلي وای. دهغوی حقه حقوق، کرامت، وینه، عزت او آبرو ته یې په درنښت کتلي وای، خو ډېر افسوس چې دا اصل نه رعایت کېږي.

امریکایي پوځونه، ځانته د ګیدړ او افغانانو ته د چرګانو په سترګه ګوري، څرګنده خبره ده چې د چرګ او ګیدړ ترمنځ د یو ځای اوسېدو امکان نشته، چې کله هم سره یو ځای شي نو د چرګ د سر خېر نشته، بالکل داسې لکه چې په افغانستان کې د امریکایي پوځیانو د لاسه د افغانانو د سرونو خېر نشته، که امریکا په افغانستان کې د پاتې کېدو اودلته په واقعي معنی د افغانانو د خدمت اراده لري نو ورته ضروري ده چې د ګیدړانو د خوئی او خصلت پرځای به د افغانانو په څېر انساني خوئی او خصلت خپلوي، دهغوی د انساني کرامت او انساني حقوقو به په بشپړ ډول احترام کوي، دهغوی له استحصال، ځورونې، وژنې او آزارونې څخه به په کلکه ډډه کوي، که داسې کولو ته نه چمتو کېږي نو بیا د افغانستان ولس نه پسونه دي او نه چرګان چې د غرب لیوان او ګیدړان یې وخوري، لاسونه هم لري او پښې هم، په جنګ هم پوهېږي او د جنګ په تاکتیک هم، لکه څنګه چې د تاریخ په اوږدو کې ډېر لیوان او ګیدړان یې له خپلې خاورې څغلولي او مات کړي دي، ان شاء الله دوی به هم له خپل ګران هېواد څخه وشغلوي.

برنامه ریزی وپلان از دیدگاه اسلام

میر محمد شاکر (سادات)

دین مقدس اسلام برعلاوه اینکه هدایات متعددی به ارتباط رهنمائی بشر در ابعاد مختلف چون بُعد عقیدتی، سیاسی، اجتماعی، ادبی وغیره ارشاد فرموده است در قسمت طرح برنامه ریزی و پلان زندگانی که همانا تصویر و طرح قبلی جهت نیل و رسیدن به اهداف میباشد نیز توجه جدی معطوف نموده است. طوریکه از لابلای تعریفات علمای مختلف نتیجه گیری میشود پلان و برنامه طویل المدت و قصیرالمدت که همانا تصویر ذهنی و قبل از فعالیت فزیکی میباشد. قرآنکریم نیز در این راستا نخستین آیت را در سورهٔ علق نازل نموده و با کلمه اقرأ پیروانش را هدایت فرموده که مقصد از کلمه فوق بخوان، تدبرنما، تعقل کن و جهت نیل به رسیدن برنامه اسلامی و انسانی طرح و پیریزی پلان نما، میباشد. همچنان رسول پاک الله محمد مصطفی صلی الله علیه وسلم قبل از اقدام هر عمل مطابق دستورات الهی خوب تدبر و تعمق نموده در فضای کاملاً عقیدتی و توکل پلان و برنامه ریزی عمیق میگرفتند و بعد از آن اقدام به عمل مینمودند مثلاً در غزوات قبلاً با صحابه کرام مشوره نموده و پلان و برنامه عمیق اتخاذ می نمودند که منجر به پیروزی ها در برابر کفار قریش و مشرکین میشدند و هم رسول خدا برنامهٔ خوب حکومت داری و سیاست صلح جویانه و برنامه های عقلانی و اصلاحی که همانا موفقیت دارین مردم در آن نهفته و مضمر است پیریزی و برنامه ریزی نموده که اگر هر انسان آن سیاست و عمل آنحضرت صلی الله علیه وسلم را تعقیب نماید حتماً موفق و مفلح میگردد.

و نیز اگر نظام اقتصادی اسلام عزیز را ارزیابی نمائیم می یابیم که چه حکمت های در همین نظام بوده و باعث ترقی اجتماعی صلح و محبت میان مردم و خیر و برکت میگردد. مثلاً در نظام عشر، زکات و خمس تمام این ویژه گی ها را دریافت مینمائیم و هم می یابیم که ربا و سود در نظام اقتصادی اسلام حرام است چرا که پس منظر فقر نفرت و استعماری دارد می یابیم که قمار و مفت خوری چنانکه سود در بانکهای این عصر است در نظام اقتصادی اسلام حرام است می یابیم که کسبه کار را پیامبر اسلام دوست خدا میداند ((الکاسب حبیب الله)) می یابیم که تعاون و تساند و شیوهٔ قرض حسنه که سبب تحکیم انبساط اسلوب و نظام اقتصادی و تحکیم شیرازه انسانی میگردد در اسلام به طور قوی مروج و معمول است. پس چه طرح و برنامهٔ اقتصادی قوی که در دنیا نظیر ندارد.

از طرف دیگر فطرتاً انسان ها میخواهد که جهت تکمیل اهداف و امیالش یک اندازه کم یا زیاد طرح و تصویر ذهنی قبلی با خود داشته باشد که همانا پلان و رسیدن به هدفش میباشد که همین فطرت انسانی را اسلام معتبر شمرده مطابق آن هدایات لازم کرده است.

در این جا به جواب سوال بعضی ها میپردازیم که گویا چگونه برعلاوه انتظام خوب سیاسی، اجتماعی، فرهنگی، ادبی و علمی اسلام چرا مسلمانان عقب افتیده اند و متوصل به ساز و برگ دنیائی نمی باشند. جواب این است که ما مسلمانان آنچه که اسلام عزیز برنامه و تیوری دارد به طور کامل آن شیوه و سلیقه را به جادهٔ عمل تطبیق نمی کنیم ورنه ما موفقیم و چنانکه در عالم معنویت پیروزیم در سازو برگ و مدرنیزه گی نیز توفیق حاصل خواهیم نمود.

به امید فراگیری برنامه های اسلامی در جمیع عرصات زندگانی (والسلام)

سربازان امریکایی دست به...

مسلمیار برنیروهای امریکایی انتقاد نموده و گفت، که نسبت به روسها در افغانستان دست به کارهای بدتر زده اند.

وی افزود: "اگر ضرورت پیش آید، جهت آزادی افغانستان در پهلوی مردم ایستاده خواهد شد".

مسلمیار از تمام اعضای شورای های ولایتی افغانستان خواست، دفاتر شان را مسدود نمایند و در کنار آنها خود را در غم مردم شریک سازند.

امان الله عظیمی نماینده مردم کندهار در این جرگه نیز خواستار محاکمه علنی و مجازات شدید برای عاملین تلفات افراد ملکی در حمله امریکایی ها گردید.

عظیمی گفت، که نیروهای امریکایی، بعد از شلیک در ولسوالی پنجوایی کندهار کشته شده گان را آتش زده اند.

وی میافزاید: "این کفار چندین بار در افغانستان دست به چنین اعمال ناروا زده اند."

رونا ترین نماینده مردم در این جرگه نیز گفت، این نخستین بار نیست، که نیروهای امریکایی در افغانستان چنین کارهای ضدبشری را انجام میدهند.

وی نیز میگوید، که عاملین این رویداد؛ باید به قسم علنی در افغانستان محاکمه گردند.

به گفتهٔ ترین، این رویداد را باید دولت افغان جداً بررسی نماید و با عاملین آن برخورد جدی نمایند.

انارکلی هنریار نماینده اهل هنود و سکها در این جرگه نیز حمله کندهار را شدیداً محکوم نموده و خواستار محاکمه عاملین آن گردید.

به گفتهٔ هنریار، قتل افراد ملکی در کندهار و مناطق دیگر خلاف تمام اصول و نورم های حقوق بشر میباشد.

انارکلی گفت، که مشرانو جرگه نیز باید جهت بررسی این رویداد، یک هئیت را تعین نماید.

روز گذشته نیز ولسی جرگه در عکس العمل به تلفات افراد ملکی در کندهار دروازهٔ شان را مسدود نمود و خواستار محاکمه علنی عاملین این رویداد گردیدند.

رئیس جمهور و وزیر دفاع امریکا طی یک تماس تیلفونی با رئیس جمهور کرزی گفته است، که موضوع این حمله را جداً بررسی و عدالت را در آن تامین خواهد نمود.

وزیر دفاع ملی امریکا گفته است، که عاملین این حمله، مجازات خواهند شد.

د پنجوايي پېښه صليبي ...

(د کب ۲۳مه) د يادي پېښې په غبرگون لاريون وکړ او د کابل-جلال اباد لويه لاره يې په درونتيه کې د يوه ساعت لپاره د ترافيکو پرمخ تړلې وه.

لاريون کوونکو د (مړه دې وي امريکا، مرګ پر اوباما، مرګ پر بهرنيو ځواکونو، ژوندي دې وي مجاهدين) شعارونه ورکول.

لاريون کوونکو محصلينو دغه راز له خلکو د بهرنيو ځواکونو پر ضد د وسلوال پاڅون او د پنجوايي د پېښې عاملينو ته د مرګ د سزا غوښتنه کوله.

د انجنيري پوهنځي محصل عمران الله کاکړ پژواک اژانس ته ووېل، دغه لومړی ځل نه دی چې امريکايي سرتېري بې ګناه افغانان وژني.

هغه زياته کړه، چې دوی د افغانانو د وژلو ترڅنګ ديني مقدساتو هم سپکاوی کوي او د افغانانو د صبر کاسه نوره ډکه شوې ده.

نوموړي زياته کړه، چې په دغه لاريون کې شاوخوا څلور زره محصلينو ګډون کړی وو او په سوله ييز ډول يې پای ته ورساوه.

د لاريون په ترڅ کې لاريون کوونکو د امريکا د ولسمشر بارک اوباما جوړ شوي ګوډاګي او د صليب نښې ته ور ورکړ.

د لاريون په پای کې د محصلينو له خوا يو پرېکړه ليک ولوستل شو، چې د پنجوايي ولسوالي پېښه په کې صليبي يرغل بلل شوی او دا پېښه يې په کلکه غندلې ده.

دغه راز په پرېکړه ليک کې په علني توګه د دې پېښې د عاملينو پر محاکمې ټينګار شوی او له خلکو او له هغه ځا چې په پرېکړه ليک کې مجاهدين بلل شوي، د دې پېښې د غچ اخيستو غوښتنه شوې ده.

د محصلينو په پرېکړه ليک کې دغه راز د ننګرهار له چارواکو غوښتل شوي، چې د تېرو لاريونونو پر مهال بندي شوي محصلين دې خوشي کړي. دپرېکړه ليک په وروستي ماده کې له هېواد څخه د بهرنيو ځواکونو د ژر تر ژره وتلو غوښتنه شوې ده.

د ننګرهار د امنيه قومانداني د امنيت امر عبادالله تلوار پژوک اژانس ته ووېل، چې دغه سوله ييز لاريون سهار نهه بجې پيل او په لس نيمو بجو پای ته ورسېد.

هغه زياته کړه، چې پوليسو د لاريون کوونکو کلک امنيت نيولی و او هېڅ ډول پېښه نه ده رامنځته شوې.

يواځې اسلام ښځو ته خپل اصل مقام ورکړی دی

عبيدالله صافي

د کب په ۱۸ مه په افغانستان کې هم د ښځو نړيواله ورځ ونمانځل شوه، په راډيو، ټلويزيون او ورځپاڼو کې د ښځو د حقوقو په اړه زړه پورې مقالې وليکل شوې او په دې خبره تاکيد وشو چې د ښځو د حقوقو په اړه دې لازم ګامونه اوچت کړی شي.

افغانستان چې يو اسلامي هېواد دی او اسېدونکي يې د الهي دين منونکي او پيروان دي ښځو ته يې بشپړ حقوق ورکړی دي، په اسلامي ټولنه کې چې ښځو ته کوم حقوق ورکول شوي دي له بل هر چا زيات دي، خو متأسفانه په افغانستان کې يواځې د ښځو حقوق څه چې ان د سړو حقوق هم تر پښو لاندې شوي دي دلته قانون معطل دی، د اقتدار خاوندان، سرمايه داران او زورواکان د خپلې خوښې قانون چلوي، د غريبو، نادارو، کمزورو په ځانګړې ډول د ښځو استحصال کوي د خپل هوا هوس ښکار ګرځوي. دهغوی له مجبوريتونو ناوړه ګټه اوچتوي، دهغوی پر عزت او آبرو لوبې کوي. دهغوی اندامونه او مخونه يې بربنډوي او له نسواني حسن څخه يې خوندونه اوچتوي، په کنسرتونو کې ورباندې سندرې وايي او رقص ورباندې کوي، د خپلو تجارتي اعلانونو لپاره د نانزکو په څېر استعمالوي، تر څو پورې چې حسن يې قائم وي او دهغوی خواهشات پوره کولې شي يو څو روپۍ ورته په لاس کې ږدي خو کله چې حسن يې زائل، او ځواني يې ختمه شي د کيلې د پوټکي په څېر لېرې ډېران کې غورځوي بيا يې نه څوک پوښتنه کوي او نه ورته اهميت ورکوي.

د اسلام په سپېڅلی دين کې د هر چا د حقوقو دائره معلومه ده له دغې دائرې نه دباندې وتل تېرې او زياتی ګڼل کېږي، ښځو ته د لباس او حجاب حد ښودل شوې، نه له هغې نه څوک په زياتی مجبوروولې شي او نه په کمولو، د افغانستان مسلمان ولس د قرآن او حديث په رڼا کې د ښځو د حقوقو د تحفظ نه يواځې دا چې حمايت کوي بلکې په صحيح معنی د عملي کېدو غوښتنه هم کوي.

د افغانستان ښځې د افغانانو، مورګانې، خويندې او ناموسونه دي په فطري ډول هر افغان د خپلو خويندو ميندو د حقوقو صحيح ساتنه غواړي خو هغه څه چې غربيان او د غرب ځينی پيروان دلته د ښځو د حقوقو تر شعار لاندې د ښځو بې حجابي او بې عزتي غواړي د افغانستان مطلق اکثريت وګړي ددې کلک مخالفت کوي او کله هم ددې اجازه نه ورکوي چې د افغانستان ښځې د غربي ښځو په څېر لوڅ لغړ او بې عفته شي، د نارينه و د لاس ګوډاګي او دهغوی د هوا او هوس ښکار شي، کله چې حسن او ځواني يې زائله شي نو بې اهميته، بې قدره، در په در او سرګردانې شي.

د افغانستان مسلمانو او پر اسلام مينو ښځو هم دا فرض دی چې د غرب له پوچې مفکورې نه د متاثرو بې حيا ښځو په خلاف خپل غږ اوچت کړي او دېته پرې نږدي چې د ټولو ښځو په نمايندګي خبرې وکړي.

افغانستان نه امريکا ده او نه اروپا، بلکې دا يو اسلامي جمهوري هېواد دی، چې د اسلام دين يې اساسي قانون دی. په دې هېواد کې به يواځې د اسلام د سپېڅلی دين په رڼا کې د هر چا د حقوقو دفاع کېږي، اسلام ښځو ته د تعليم ترڅنګ د کار کسب او ماموريت حق هم ورکړيدي خو د بې ستري، بې حجابي او دداسې لباس د اغوستو اجازه نه ده ورکړې چې فساد ته مفضي کېږي، د اسلام په دين کې ښځو ته له سړو سره يوځای ناسته ولاړه او بې ضرورته خبرو اترو ته هم اجازه نه ده ورکول شوې او دېته يې قطعي حرام ويلي دي. په قرآن کريم او نبوي احاديثو کې د ښځو د حجاب په اړه مستقل احکام موجود دي چې له هغه نه سرغړونه او پرخلاف يې فعاليت کول يوه مسلمان ښځه او نارينه د ايمان او اسلام له دائرې نه وباسي.

که چېرته ښځې ته له نارينه و نه په جلا ښوونځي، ليسه او پوهنتون کې د زده کړې سهولت او اسانتياوې برابرې شي نو په دې کې ښځو ته له ګټې پرته هېڅ تاوان نشته، همدا راز که چېرته د امکان تر حده د ښځو د کار ساحه له سړو نه جدا وي نو په دې کې ښځو ته له مصؤنيت پرته بل هېڅ تکليف نشته، آخر په داسې کولو سره د ښځو کوم حقوق تر پښو لاندې کېږي چې ځينی غرب مشرفه ښځې او مدني ټولنې دا کار د ښځو د حقوقو په تاوان بولي او په سختو الفاظو يې مخالفت کوي؟ د تعجب خبره لا دا چې په يو اسلامي هېواد کې د الله تعالی د دين په خلاف څرګند بغاوت کېږي، ستر او حجاب ته ظالمانه اقدام ويل کېږي، د ښځو او نارينه و ترمنځ د تعليم او کار کسب د ساحې د جلا کولو په خلاف فعاليتونه کېږي او دا د ښځو د حقوقو په تاوان ګڼي، خو د اسلامي جمهوريت مسلمان چارواکي دهغوی په خلاف هېڅ عکس العمل نه ښکاره کوي.

که افغانستان واقعاً يو اسلامي جمهوريت، او قانون يې الهي دين دی نو بيا دلته له اسلامي قانون پرته بل هېڅ قانون ځای نه لري او هېڅوک حق نه لري چې د اسلام د سپېڅلي دين د قطعي احکامو په خلاف فعاليت وکړي.

غربي نړی چې د ښځو د حقوقو تر نامه لاندې کوم شين باغ ښځو ته ښکاره کوي دا په حقيقت کې دهغوی د ښکار کولو جال دی چې خپل هوا و هوس ورباندې پوره کړي.

د افغانستان مسلمانو ښځو ته پکار دي چې دهغوی په لومو کې د ګېرېدو پر ځای د اسلام د سپېڅلي دين ته رجوع وکړي او دهغه په رڼا کې د خپلو حقوقو د ترلاسه کولو هلې ځلې پکار واچوي چې خپل ټول ژوند، په حيا، عزت، آبرو، حفاظت او سرلوړي کې تېر کړي، دنيا يې هم ښه شي او آخرت يې هم، لاسونه يې هم ښکل کړی شي او پښې هم.

افغانستان د نړۍ په رسنیو کې

د کندهار وروستۍ پېښې اندېښنې زېږولي دي

والستریټ ژورنال:
امریکایي والستریټ ژورنال ورځپاڼه لیکي، د یکشنبې د ورځې پېښې یقیناً د کابل او واشنګټن ترمنځ په اړیکو کې کړکېچ زیات کړی دی.
د ورځپاڼې په وینا افغان چارواکي له امریکا سره د اوږدمهاله همکاریو د سند په اړه چې د دې هیواد ځواکونو ته اجازه ورکوي، چې تر۲۰۱۴ کال وروسته په افغانستان کې پاتې شي، د خبرو یوه سخت پړاو ته داخل شوي دي.
یوشمېر سیاسي څېړونکي له دې اندیښنه لري، چې د یکشنبې د ورځې پېښه به دغه خبرې له خپل اصلي مسیره بې لارې کړي.
والستریټ ژورنال ورځپاڼه د امریکا د امنیت په نوي مرکز کې د انډریو ایکسوم هغه خبره رااخیستې، چې ویلي یې دي، دغه حمله به ښایي د افغانانو، امریکایي او د نورو ایتلافي ځواکونو تر منځ اختلافات زیات کړي او دې پېښې پر هغو ځو محدودو انتخابونو چې د افغان مذاکره کونکو په اختیار کې دي، اغیز کړی دی.
د ورځپاڼې په وینا، د امریکا اکثره پوځي چارواکو محتاطانه خوشبیني ښودلې، چې د کندهار پېښه به د دې سبب نه شي چې امریکا په خپلې ستراتیژۍ کې ستربدلون راولي یا له دې هیواده له وخته مخکې ځواکونه وباسي.
د پنتاګون د یوه چارواکي په وینا داسې ښکاري، چې د دغو اړیکو اساس کلک دی.
نیویارک ټایمز:
نیویارک ټایمز ورځپاڼه د امریکا په یوې پوځي اډې کې د هغو اندیښنو په اړه چې د کندهارد وروستۍ پېښې په اړه راپورته شوي، لیکي، د لیویس مک چورډ په اډه کې څلورمیاشتې مخکې د امریکا د پوځ قضایي هیات د امریکا د هغې قاتلې پوځي ډلې مشر محاکمه کړ؛ چې د ساعت تیرې لپاره یې په افغانستان کې یوشمېر افغانان وژلي وو.
په دې اډه کې تیر۲۰۱۱ کال کې لړترلړه دولسو عسکرو ځانونه ووژل او تیره اونۍ سناتور ویټي موري، د دې اډې پرپوځي روغتون له دې کبله انتقاد وکړ؛ چې د هغو ۲۸۵ عسکرو د وسپې یې رد کړې وې، چې د جګړو له امله رواني ناروغان تشخیص شوي و.
نیویارک ټایمز لیکي، د یکشنبې په ورځ په ولیویس مک چورډ اډه کې
داخبر خپور شو؛ چې د دې اډې ۳۸ کلن د لګۍ مشر چې د دوماشومانو پلاردی او نوم یې پوځ نه دی افشا کړی، ګومان کیږي، یوې وژونکې حملې ته ورته عمل کې ۱۶ ملکي افغانان په ډزو ووژل.
د وټایلرو په نامه یوه پوځي وویل، چې دی د فیس بوک له لارې خبر شو چې یوه عسکر په ډزو ملکیان وژلي دي.
هغه وویل، د دغه خبر له خپریدو وروسته د دوی د اډې په اړه د منفي خبرونو لړۍ زوراخیستی، چې دې مسلې ډیرې اندیښنې راپورته کړي دي او ځیني وختونه یې دوی دې ته اړ کړي چې دفاعي دریځ غوره کړي.
خو دوی دغه راز په دې اړه هم ډیره اندیښنه څرګنده کړې، چې کله یې افغانستان ته د لیږلو وار راورسیږي، نو به هلته له ډیرو خطرونو سره مخ شي.

د ستراتیژیکو اړیکو په اړه لومړنۍ خبرې وشوې

کابل، رسنۍ:
افغان او د اروپایي ټولنې چارواکو د دواړو لوریو ترمنځ د ستراتیژیکو اړیکو په اړه له لومړنیو خبرو وروسته د دې سند په اړه ډیر کم معلومات ورکړل.
د بهرنیو چارو وزارت سیاسي مرستیال جاوید لودین، چې د دوشنبې په ورځ یې په کابل کې د اروپایي ټولنې له یو پلاوي سره په دې اړه له خبرو وروسته یوې خبري غونډې ته وینا کوله وویل، چې دا د همکاریو یو جامع سند دې، چې څه باندې شپیته مادې لري.
خو ښاغلي لودین وویل، چې د دې سند نهایي کیدل زیات وخت ته اړتیا لري:
"نن د افغانستان او اروپایي ټولنې ترمنځ د اوږد مهاله اړیکو په اړه لومړنۍ غونډه وشوه، دا یو فوق العاده جامع سند دی، له شپیتو زیاتې مادې لري، د دې سند له مخې په ټولو هغو برخو کې مرسته کیږي چې تصور یې کیږي.
اوس هدف دا دې چې د لسو راتلونکو کلونو لپاره دغه مرستې څنګه ترتیب شي، موږ به په راتلونکې کې په تفصیل سره د دغه سند په هره ماده خبرې وکړو.
موږ هیله مند یو چې د قانون د حاکمیت او د پولیسو د روزنې په برخه کې د اروپایي ټولنه مرستې راجلب کړو."
ښاغلي لودین وویل، چې دغه سند به له لاسلیکېدو مخکې ملي شورا ته ځي او د شورا له غړیو سره به هم پرې سلا مشورې کیږي.
دواړو لوریو پریکړه وکړه، چې په نږدې راتلونکې کې به په دې اړه بیا غونډه وکړي او د دغه سند په اړه به مفصلې خبرې وکړي.
د بهرنیو چارو وزارت په ۲۰۰۵ میلادي کال کې له اروپایي ټولنې سره د همکاریو یوه اعلامیه لاسلیک کړې وه، خو اوس غواړي چې دغه اړیکې لاپیاوړې او دیوه سند په بڼه لاسلیک شي.
د اروپایي ټولنې د جنوبي اسیا د څانګې مسؤل ډیویډ تیر وویل، چې د اوږدمهاله همکاریو دغه سند د دې ښکارندويې کوي چې اروپایي هېوادونه له افغانستان سره اوږدمهاله او ښې اړیکې غواړي:
"زه تاسو ته د اوه ویشتو اروپایي هېوادونو په استازیتوب خبرې کوم، دا ټول هېوادونه د افغانسان ملګري دي.
موږ کوم نظامي اورګان نه یو، موږ د دغه سند په وسیله غواړو له افغانستان سره د ښې حکومتدارۍ، بشري حقونو، عدالت، د ښځو حقونو او داسې نورو برخو کې مرسته وکړو.
موږ به له افغانستان سره پراختیایي مرستې ولرو، موږ به د سوداګرۍ او پانګې اچونې ملاتړ وکړو."
د بهرنیو چارو وزارت وایي، د افغانستان او اروپایي ټولنې ترمنځ د اوږدمهاله همکاریو په اړه به خبرې اترې نږدې یو کال ونیسي.
افغان حکومت له دې وړاندې له هند،بریتانیا،فرانسې او ایټالیا سره هم د اوږدمهاله همکاریو سندونه لاسلیک کړي.
افغان حکومت غواړي په نږدې راتلونکې کې له امریکا سره هم د ستراتیژیکو اړیکو سند لاسلیک کړي.
خو دافغان حکومت دغو هڅو د سیمې ځینې هیوادونه اندیښمن کړي او د کتونکو په باور دغه هیوادونه غواړي چې افغانستان له امریکا او نورو هیوادونو سره ستراتیژیک سندونه لاسلیک نکړي.

مذاکره بامخالفین یگانه راه ...

سال ۱۹۷۹به این طرف به یک نوع یا نوع دیگر ادامه دارد نیز خسته شده اند.
بنوشته روزنامه فاینشل تایمز، تعداد زیاد افغان ها به این استدلال طالبان موافق اند که حضور نیروهای خارجی در افغانستان باعث دوام جنگ، بد بختی و خون ریزی بیشتر می گردد. علاوتاً، افغان ها با فساد اداری رو به افزایش و با حکومت بی کفایت روبرو می باشند که نه عدالت در آن وجود دارد و نه هم حاکمیت قانون و یک سوم نفوس نیز از فقر و سوء تغذی رنج می برند.
مردم افغانستان نه تنها ایالات متحده امریکا را بلکه حامد کرزی و حلقه درونی او را که برای وی مشوره های ضد و نقیض می دهند مورد انتقاد قرار می دهند. واشنگتن از جنگ که در عراق و افغانستان به راه انداخت و از هیچ کدام آن طوریکه انتظار داشت نتیجه بدست نیاورد، نیز خسته شده است. درست است که اسامه بن لادن کشته شد، ولی اعتقادات شبکه القاعده از سال ۲۰۰۱ به این طرف در بسیاري از کشورها گسترش یافت و طالبان نسبت به آنچه که نیروهای غربی چند سال قبل تصور می کردند، نیز نیرومند تر شدند.
احمد رشید نویسنده مقاله می نویسد، قوماندانان بلند پایه نظامی امریکایی در واشنگتن تبلیغاتی را به راه انداخته اند و اصرار می ورزند که گویا هنوز هم یک نوع پیروزی در جنگ افغانستان ممکن است، مشروط بر این که بارک اوباما تعداد زیاد عساکر را به این زودی از افغانستان بیرون نکشد و کانگرس امریکا هم به دوام جریان بودجه موافقت کند. بسیاری از اعضای حزب جمهوری خواه امریکا در حالیکه از حضور نظامی در افغانستان حمایت می کنند، اوباما را بخاطر آغاز مذاکره با طالبان نیز مورد انتقاد قرار داده اند.
اما بعد از سیل حوادث سال جاری که در افغانستان بوقوع پیوست، دیگر هیچ شکی باید در واشنگتن وجود نداشته باشد که مذاکره با طالبان با هر زودی که ممکن است، یگانه راه ختم جنگ در افغانستان می باشد. بناءً حال وقت آنست تا بارک اوباما تمام وزن خود را در عقب ستراتیژی خروج تدریجی نیروها بی اندازد و به مردم افغانستان فرصت بدهد تا این جنگ طولانی دیگر خاتمه پیدا کند.
خلاصه فورمول مشارکت قدرت با طالبان طوریکه دیده می شود اجتناب نا پذیر است و یک پیمان با کشور های همسایه به منظور محدود ساختن مداخلات آنها در افغانستان هم کلید راه حل خواهد بود.
ایالات متحده امریکا نمی تواند جنگ داخلی را بحیث یک میراث به افغان ها بگذارد و بار دیگر افغانستان را ترک کند. واشنگتن و ناتو باید قبل از خروج نیروهای شان این جنگ را خاتمه بدهند، زیرا با وصف تراژیدی کشتار اطفال بیگناه، هنوز هم امکان ختم جنگ وجود دارد مشروط بر این که اینجا فشار مشترک سیاسی و دیپلوماتیک وجود داشته باشد.

له افغانستانه به دځواکونو ...

هغه له افغانستانه د پوځیانو په ایستلو کې له بیړې کار اخیستل دي."
پنیتا د امریکایي پوځي د اعدام امکان شته.
په همدې حال کې د امریکا دفاع وزیر لیون پنیتا وویل، که پر امریکایي پوځي د شپاړس ... بې ګناه ملکیانو قتل ثابت شو، ممکن هغه اعدام شي.
ده وویل چې د امریکا په پوځي محکمه کې به تورن کس محاکمه شي. کله چې له پنیتا څخه وپوښتل شول چې دغه پوځي په خپله له وژنو وروسته ځان تسلیم کړی نو په دې کې د جرم د اعتراف لپاره نور څه پاتې دي، ده وویل: "ما ته هم دغسې ښکاري چې قضیه همداسې ده."
پنیتا، چې قرغیزستان ته د سفر په مهال له خبریالانو سره خبرې کولې، په عین حال کې وویل، د مجرم ثابتېدو په صورت کې د تورن لپاره د اعدام د حکم د صادرېدو امکان شته.

غندنې او ښنې د دې وحشت ...

شوق دی د دې شوق په تر سره کولو کې دوی هیڅ ډول پابندې نه لیدلې او نه ورته ویل شوي دي، ځکه خو نه دا لومړۍ غمیزه ده چې زموږ ولس یې په ویر کې ډوب دی او نه به وروستۍ وي، په غندنو او پښېمانیو هیڅ نه کیږي، نه زموږ د تپې زړونو ټکور کیدای شي او نه د راتلونکې ډاډ، په دې اړه دوو ټکیو ته پام په کار دی:لومړی دې ټول افغان ولس د ولسي جرګې په څېر پر دې پېښه غبرګون وښيي او خپل غږ دې په یوه ملي غوښتنه بدل کړي چې موږ د پېښې د وحشي قاتل او یا قاتلینو علني محاکمه غواړو، تر څو هغوی محاکمه نشي تشې ښښنې ډېرې تکرار شوې هیڅ معنا نه لري.نړیوال په تیره امریکایي چارواکي دې هم بشریت ته د درناوي پر اساس نور د مکارانه څرګندونو پر ځای واقعیتونو ته غاړه کیږدي، د جنوني مجرمینو محاکمه دې پیل کړي چې دوی هم له ډېرو سرټیټو او معذرتونو څخه بیغمه شي، په دې کې دوی تاوان هم نه کوي بلکې د نړۍ په نورو ولسونو کې به یې بایللی حیثیت بېرته تر لاسه کړي.په لنډو ټکیو کې ویلای شو چې افغانان دې له چارواکیو نیولې تر عام ولس، په تیره سیاسي اودولتي مشران لږ غیرت وکړي سره یو موټی دې شي او په یوه خوله دې دمجرمینومحاکمه وغواړي، نړیواله ټولنه او امریکا دې لږ انسانیت او سړیتوب وکړي.

وزارت معارف برای سال ...

نماینده های ریاست های معارف افغانستان راه اندازی شده بود، گفت که استخدام این معلمین توسط یک هیات متشکل از نماینده های وزارت معارف و اداره اصلاحات اداری صورت خواهد گرفت. آقای پتمن همچنان گفت که سوالات امتحان توسط مسوولین وزارت معارف در کابل ترتیب شده، اما امتحان در ولایاتی که با مشکل کمبود معلمین مواجه اند، توسط هیات موظف اخذ می گردد: "در حدود ۲۴۰ ولسوالی افغانستان به کمبود معلم و یا نبود معلم مواجه هستیم، ورکشاپ که امروز شاهد هستید، یازده هزار بستی که وزارت مالیه امسال در تشکیلات وزارت معارف داده ۶۰ فیصد برای زنان در نظر گرفتیم. موضوع دوم جذب شاگردان برای تربیه معلم می باشد که در نشست امروز بحث صورت می گیرد. نمایندگان ریاست ها معارف را به کابل خواستیم تا روی موضوع صحبت نمایند."
آقای پتمن همچنان گفت که برای آن عده از استادان مسلکی اناث که در ولسوالی های نا امن ولایات ارزگان و پکتیکا استخدام می گردند، بین هشت صد تا دوازده صد دالر معاش در نظر گرفته شده است. معین مسلکی وزارت معارف اظهار امیدواری نمود که برنامه استخدام معلمین به صورت شفاف و عادلانه صورت گرفته و استادان مسلکی در مکاتب کشور استخدام شوند.
اما شماری از تحلیلگران امور به شفافیت این برنامه به دیده شک می نگرند و می گویند که حکومت افغانستان طی چند سال گذشته نتوانسته است تا افراد مسلکی را در معارف جذب کند.
حبیب الله رفیع یک تن از تحلیلگران افغان در این مورد به رادیو آزادی چنین گفت:
"متاسفانه تا حال هیچ پروسه، شفاف به نظر نیامده که کسی به اساس لیاقت مقرر گردد، وقتی که در دیگر ادارات دولت این عدالت صورت نگرفته، فکر می کنم که در وزارت معارف هم امکان ندارد."
اما معین مسلکی وزارت معارف می گوید که این وزارت طی چند سال گذشته تلاش نموده تا استادان مسلکی را در مکاتب مختلف کشور استخدام نماید.
قرار معلومات آقای پتمن در حال حاضر ۱۹۳ هزار معلم در مکاتب کشور مصروف تدریس می باشند که حدود ۴۰ درصد آنان را استادان مسلکی تشکیل می دهند.مسوولین وزارت معارف می گویند که به هدف حل مشکل کمبود استادان مسکلی، این وزارت در نظر دارد سال آینده ۲۰ هزار فارغان مکاتب را در دارالعلمین های کشور جذب نماید.

دغه ربګه موتاسې غوره امت ګرځولي یاست چې پر خلکو ګواهان اوسئ

شهادت اونیزه
د حزب اسلامي افغانستان نشراتي ارګان

خبرونکې اداره: د حزب اسلامي افغانستان فرهنګي څانګه
د امتیاز خاوند: حزب اسلامي افغانستان
مسؤل مدیر: عبدالله "کامه وال"
مرستیال مدیر: عبدالخلیل (محمد خلیل)

د اړیکو شمېرې
دفتر: ۰۲۰۲۵۷۱۲۳۲
مسؤل مدیر: ۰۷۷۷۲۰۲۲۰۱
مرستیال مدیر: ۰۷۷۲۲۷۵۷۸۳

• د شهادت اونیزه د هر لیکوال او د نظر خاوند د لیکنو هرکلی کوي
• د شهادت اونیزه حق لري چې د لیکوال لیکنه د ضرورت په وخت داسې اصلاح کړي چې د لیکنې اصل روح ته تاوان ونه رسي
• رالیږل شوي مطالب نه مستردیږي - بوازې سرلیکنه د شهادت د اونیزې رسمي نظر دی.

دیزاین: خواجه وحیدالله
آدرس: د حزب اسلامي افغانستان مرکزي دفتر سیلو ته مخامخ خوشحال خان مینه، کابل - افغانستان
Email Add: shahadatnews_kabul@yahoo.com